شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۷/۲۱

# هیواد ژغورنه

د امریکا او طالبانو د سولې د خبرو پیل، په هیواد کې د ۲۰۱۹ کال د جمهوری ریاست ټاکنو، هیوادوالو او نړیوالو ته دا هیلې پیدا کړې چې ګوندي په هیواد کې به جګړه پایته ورسیږی او دایمي سوله به رامنځته شي، مګر په خواشینی سره د امریکا او ځینو ګاونډیو هیوادو او په هیواد کې د ځینو کړیو د سیاسي او ستراتیژیکو لوبو په نتیجه کې د هیواد وضعیت نور هم خونړي او د سترو اندیښنو او ګواښونو لور ته ور وغزید.

د سولې روانه پروسه نوره هم پیچلي شوه، نظام د محمد اشرف غنی د انتخاباتي کمپاین د وعدو خلاف بیا د یو شریک او ګډ حکومت له جوړولو سره د یو ستونزمن وضعیت د موجودیت په حال کې چې له سل ګونو کورنیو او بهرنیو ستونزو سره لاس او ګریوان و، له نورو کړکېچونو سره مخامخ شوی دی.

په نظام کې دننه، یو شمېر سیاسي او تنظیمي کړی، ځنې بهرني هیوادونه د امریکا په شمول، ورځ تر بلې د افغان دولت، نظام د کمزوری کولو او طالبانو ته د ملي او بین المللي موقف، ځواک او پیاوړی کولو په لار کې اګاهانه او یا غیر اګاهانه کار کوي.

په داسې ستونزمن وضعیت کې هیواد وال د مختلفو زاویو نه د هیواد د روان وضعیت په هکله غبرګونونه مطرح کوي، مګر د نظریاتو او غبرګونونو غورچاڼ ټول جمهور رئیس محمد اشرف غنی ګواښي، نیوکې پرې کوي او د وضعیت مسؤل یې ګڼي.

لیکوال او شنونکي نوزادی صاحب په خپله فیسبوک پاڼه داسې لیکلي دي :

«په تیرو پنځو شپږو کلونو کی مو د اولسمشر اشرف غني پر ضد ډیري نیوکي وکړی ، ډیر اداري او آن اخلاقي تورونه مو که حق وه یا ناحق پر ولګول .دا نیوکي ډیر ځلي د داسی سپکو سپورو سره مل وي چي د قلم عفت هم رانه تر پښو لاندي کیدی .زما په آند پدي ټولو کی دري ډوله موخي برجسته وی .

**الف** – هغه کسانو دا کار کاوه چي د وطنه سره یی ربښتیني مینه درلوده او د دوی په نظر د غني واکمنی د هیواد د ابادي په ګټه نه ښکاریده .ځکه یي نو د ده ناخوال اړخونه ځرګندول څو خلګ مخ تری نه واړوي او د بیا ځل ټاکلو مخه یي ونیول سي .

**ب** – هغو کسانو دا کار کاوه چي په ښکاره او بربنډ دول د ښاغلي ډاکتر صاحب عبدالله پلویان وه او پدي توګه یی د غني مخه نیول څو عبدالله ته د بری لاره پرانیزي .

**ج** – دا کار هغو کسانو هم کاوه چي یوازي یی د غني د کرورو نه ښه نه راتله او بل منطقي دلیل یی نشو ورلاندي کولای

د دغو درو واړو ډلو ګډ هدف دا وو چي غنی باید بیا ځلي ارګ ته لاره و نه مومي . مګر د ټولو دغو هلو ځلو سره سره که په حق وه یا په ناحق ، غني دا دی بیا د ارګ کیلي جیب ته واچول .اوس زه وینم چي د ده په وړاندي د هغو پخوانیو نیوکو په بنه کي لا اوس هم څه ځانګړی توپیر نه دی راغلی .د یادولو وړ ده چي د غني پر ضد په هلو ځلو کی که هرڅه و لیدل شوه خو د غني په وجود کي د وطن د سولي او ابادی په ګټه یوه پیاوړي منطقي طرح تر سترګو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

نه شوه .بله خبره دا چي اصولاً باید نیوکي د وخت او زمان سره سم تغیر وکړی، مګر موږ ټول بیله نوښته په هغه یوه سبک روان یو .موږ پدې هکله حتي فکر هم نه کوو چی غني نور خپل ټول قانوني چانسونه د لاسه ورکړي او د دریم ځل نوماند کیدو حق هم نلری. ځکه نو ښه به دا وی، د دې پر ځای چی خپل وخت او انرژی د غني د شخصیت په بي ګټي ټکولو تیره کړو، مناسب کار به دا وی چی پدغه حساس وخت چی هیواد د څو ډوله اقتصادی، امنیتي، کرونایي او سیاسی ناخوالو سره مخامخ دی، باید د دغه ناوړه حالت څخه د وتو په موخه یوه هر اړخیزه او جامع طرح ورته وړاندي شي او خپلي زړه سواندي ګټوري مشوري ورڅخه و نه سپمول شي. دا چي غني یې مني یا نه مني، دا د ده تاریخي مسؤلیت دی، خو روڼ اندي باید خپلي غاړي خلاصي کړي.»

همدا ډول محترم لیکوال حمید الله وروړ په ډېره هنري ژبه په نظام کي د ولسمشر د ټیم د غړو پاملرنو ته او په مجموع کي د مغرضو دښمنانو د روانو نیوکو او غبرګونونو په هکله په خپله فیسبوک پاڼه کي داسي لید لوری وړاندی کوی :

«په نظام کي د ولسمشر باوري واکمنو چارواکو!

نن سبا د بهرنیو او د کورنیو دوښمنانو په هڅو او لګښتونو د نظام او د ولسمشر پرضد د بی باوری او د تبلیغاتو کچه او اغیز د خلکو د بغاوت تر بریده رسیدونکي ده .

هر تلویزیون او هره رسنۍ د پاکستان او د بهرنیو د استخباراتو څرګندي تبلغاتي اداري جوړې شوی دي، په تلویزیونو کي هر یو ویونکی او شنونکی د ناورین او د بحران ګواښونه او چیغي وهي .

د نظام او د حاکمیت پر ضد لکه د یوه مرکز نه د پلان شوو او د سنجول شوو زهرجنو او درواغجنو تبلیغاتو، اګاهانه ننګونو، فتنو، دسیسو، چور،غلا او خیانت هیواد کي توره او ناهیلي کونکي تیاره خپره کړیده، طالبان او د هغوی د کور د ننه ملاتړي چه د جګړو، فتنو، دسیسو او د ناورین اصلي عاملین وو او دي، د خلکو له ادرسه او د خلکو په مینځ کي د زړه بګنونکي رواني جګړې سربیره پخپلو پرلپسي او پلان شوو تبلیغاتو او نیوکو کي د خلکو له پام او نظره داسي پناه او خوندي دي، لکه چه هیڅکله هم د جګړې عاملین او د روان بحران زیږونکي نه وو او ندي .

دوست او دوښمن، غل او مل، خپل او پردی ،عاقل او بې عقل ټول اګاهانه اوغیر اګاهانه سره یو ځای شوي د نظام پرضد په تبلیغاتو کي مچ په فیل بدلوي او د نظام د ټکولو لپاره له هرې پیښي او حتی د ولسمشر د لفظي تیروتنو هم تبلیغاتي ګټه کوي .

که تاسي ښاغلي چه خلک مو د ارګ د برجونو کي ناسته د غلو او فساد مافیا بولي، خدای مکړه لکه د نورمحمدتره کي اود داکترنجیب الله پر ضد د بهرنیو استخباراتو او د کورد ننه د اقتصادي او د تنظیمي مافیا سره د نظام او د ولسمشر د ماتولو او د ناکامولو په کومه دسیسه او کودتا کي هملاسي او همغږي نه یاست نو نن سبا د ملت شکونو او پوښتنو ته سپیناوی او ځواب ورکول خورا اړین دي .

که تاسي ښاغلي په ربښتیني توګه په نظام کي د ننه د شته ستونزو د عاملینو او د محرکینو له ډلي نه یاست، که ربښتیا مو ولسمشر له خلکو او خلک مو له ولسمشر نه پټ کړی نه وي، که په ربښتیني توګه د خلکو، د نظام او د ولسمشر باشرفه او ذمه وار ملاتړي یاست، نو بې له ځنډه رسنیو او خلکو ته راووزئ، لمړی ئې د خلکو نه واورئ او تش د خبرو او غورو په بڼه نه بلکي په ربښتیني او عملي توګه د خلکو ډاډ او باور تر لاسه کړئ .

تاسي باید بې له ځنډه د خلکو په ذهنونو او فکرونو باندې د حاکم شوي روان شکمن وضعیت او د روان حالت علت او معلول ملت ته روښانه کړئ، ګني تنظیمي اشرارو او طالبانو د نوییمو کالونو د خونړي ناورین د بیا تکرار جوړجاړی په فطر، مسکو او پاکستان کي لا مخکي کړی دی .

فرصت د لاسه مه ورکوئ، هوا خورا خرابه، باراني او طوفان کیدونکي ده ، د ملت د خولو او د غوږونو تر څنګ د نظام او د ولسمشر دوښمنانو ځای نیولی دی .ملت په ربښتیني توګه ویریدلی او قهریدلی دی، په خبرو او غورو بې باوره دي .په ربښتیني او عملي تو ګه څه کولو ته اړتیا ده .

خلک د روان شکمن حال او احوال عاملین تاسي بولي او تاسي د نظام او د ولسمشر پر ضد د پټو بلاؤ سره په کمین کي همغږي او هملاسي بولي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

که داسې نه وي نو هڅه وکړئ ملت ته ډاډ او باور ورکړئ، لنډه دا چه د هیواد ابادی، سوکالی، پرمختیا، د هیواد د عزت او د سلامت خوندیتوب ته ژمن نظام او حاکمیت د پاکستان او د مفسدینو نه وژغورئ .د هرډول ستونزو او کمیو سره سره مو له دغه نظام سره برخلیک تړلی دی .

د نظام ړنګونکي د هیواد او د خلکو سره ندي، فتنه ګر دي، ازمویل شوي دوښمنان مو دي، مونږ به جوړونکي نیوکي کوو او دوښمنان به د دوښمنۍ په زهرو ککړ تبلیغات کوي چه دا مو تر مینځ ستر توپیر دی.»

حقیقت خو همدا اوس دا دی چې هیواد او هیوادوال له یو ستر ناورین سره لاس او ګریوان دي. دوست او دښمن په اګاهانه او غیر اګاهانه توګه د موجود نظام ستنې کمزورې کوي، تخریبوي یې چې ګټه یې یوازې د بهرنیو نیواکګرو، د نظام د کورنیو مخالیفینو او طالبانو ژرندو ته اوبه ورتویول دي چې په دې تیروخلوییښتو کلنو او په خاص ډول د دی نولس کلنې جګړې اساسي عاملان دي.

راځئ دا به ومنو چې د محمد اشرف غنی په اداره او کاري ټیم کې مفسد عناصر شتون لري، دا به ومنو چې هغه وعدې چې یې هیوادوالو سره کړې وې، عملي نه کړې، دا به هم ومنو چې بیا یې د وعدې خلاف له عبدالله عبد الله سره د ګډ حکومت جوړېدو ته په داسې حال کې چې ټولو ته معلومه ده چې د بهرني فشار په نتیجه کې غاړه کیښوده؛ ولی بیا هم د دغو ټولو کمیو او نا خوالو سره ـ سره ایا هیوادوالو دا سوچ کړی، چې که دغه موجود نظام ړنګیږي په هیواد کې به څه راپیښ شي؟. ایا د موجود نظام د له منځه تلو ځایناستی نظام به څه ډول وي؟

طبعي ده چې یا به تیر تاریخ بیا تکراریږي، مسلح تنظیمونه چې د وسلو او مهماتو زیرمې لري میدان ته رادانګي چې مشري به یې بیا هم شورای نظار کوي او یا به طالبان بیا صحنې ته را درومي چې هیوادوالو ته یې تېرې کړنې او فکري سیر ښه مالوم دی، او د داسې سترو غمیزو او غوبل له ننداره سره به مخ شو چې بیا به د همدې موجود نظام ارمان کوو، خو څه به مو له لاسه پوره نه وي.

د هیواد په دې حساسو شیبو کې اړین دی چې د نظام د تخریب او کمزورولو پر ځای، د نظام د خلاو د ډکولو په خاطر په نظام کې د اصلاحاتو د راوستلو په خاطر جدي هلې ځلې وشي، دا کار هغه وخت ښه تر سره کیدای شي چې ولس میدان ته راودانګي، د نظام او اشرف غنی د غندنې پر ځای د روان وضعیت پر اصلي عاملینو چې بهرنیان او کورني ګوډاګیان یې دي، فشار راوړي، مدني حرکتونه پیل کړي، څو نړیوال د ولس غږ واوري او درک یې کړي چې دا ټولنه او ولس ویښ دي؛ په هغه صورت کې به موجود نظام هم وګوري، چې ولس یې تر څنګ ولاړ دی او په ګډه به پر بهرنیانو د فشار په نتیجه کې هم هیواد وژغورل شي او هم به د سولې روانه پروسه اصلي مسیر ته واړول شي.

**وطنه مور یې زموږ!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ